# د ټي.بي له مينځه وړل
## *توبرکلوز: عمومي معلومات*

**ټي.بي څه شی دی؟**

توبرکلوز (ټي.بي) يوه ناروغي ده چې د ميکروبونو له امله رامينځته کيږي او يوه شخص څخه بل شخص ته د هوا له لارې انتقاليږي. ټي.بي عموماً سږو باندې اغيزه کوي، مګر دا ناروغي کولی شي د بدن نورو برخو باندې هم اغيزه وکړي لکه مغز، پښتورګي، يا د ملا تير. که چيرې په توبرکلوز اخته شخص درملنه ونکړي نو مړ کيدی شي.

**د ټي.بي علايم کوم دي؟**

د ټي.بي ناروغی عمومي علايمو کې د ناروغی يا ستړيا احساس کول، د وزن له لاسه ورکول، تبه، او د شپې لخوا خوله کيدل شامل دي. د سږو ټي.بي ناروغی علايمو کې ټوخی کول، د سينې درد، او په ټوخي کې د وينې راتلل هم شامل دي. د بدن نورو غړو کې د ټي.بي ناروغی علايم اغيزمن شوې برخې پورې تړاو لري.

**ټي.بي څنګه خپريږي؟**

د ټي.بي ميکروبونه هوا کې خپريږي کله چې د سږو يا ستوني په ټي.بي ناروغی اخته شخص ټوخی کوي، پرنجی کوي، خبرې کوي يا سندرې وايي. دا ميکروبونه د چاپيريال په پام کې نيولو سره تر څو ساعتونو پورې په هوا کې پاتې کيدی شي. هغه شخص چې د ټي.بي دا ميکروب لرونکي هوا تنفس کوي ورباندې اخته کيدی شي؛ دې ته د ټي.بي پټ عفونيت ويل کيږي.

**د ټي.بي پټ عفونيت او د ټي.بي ناروغي ترمينځ څه توپير دی؟**

د ټي.بي پټ عفونيت لرونکي خلک په خپل بدن کې د ټي.بي ميکروبونه لري، مګر هغوی ناروغ ندي ځکه چې دغه ميکروبونه فعال ندي. دغه افراد د ټي.بي ناروغی علايم نلري، او دوی دغه ميکروبونه نورو ته نشي ليږدولی. په هرصورت، ممکن هغوی په راتلونکي کې په ټي.بي ناروغی اخته شي. دوی ته ډيری وختونه درملنه ورکول کيږي ترڅو د ودې مخنيوی يې وشي
د ټي.بي ناروغي.

د ټي.بي ناروغي لرونکي اشخاص د ټي.بي د فعال ميکروبونو څخه ناروغه وي، پدې معني چې هغوی د دوی په بدن کې نسج ډيروي او تخريبوي. هغوی عموماً د ټي.بي ناروغی علايم لري. د سږو يا ستوني ټي.بي ناروغی لرونکي اشخاص کولی شي نورو ته ميکروبونه تير کړي. دوی ته درمل توصيه کيږي چې وکولی شي د ټي.بي ناروغي درملنه کړي.

**زه بايد څه وکړم که چيرې ما د ټي.بي پټ عفونيت لرونکي کوم چا سره وخت تير کړی وي؟**

د ټي.بي پټ عفونيت لرونکی شخص نورو خلکو ته ميکروبونه نشي ليږدولی. که چيرې تاسي د ټي.بي پټ عفونيت لرونکي کوم چا سره وخت تير کړی وي نو اړ نه يي چې معاينه وکړئ. په هرصورت، که چيرې تاسي د کوم داسي چا سره وخت تير کړی وي چې د ټي.بي ناروغي لري يا کوم داسي څوک چې د ټي.بي علايم لري نو تاسي بايد معاينه شئ.

**زه بايد څه وکړم که چيرې د کوم داسي چا سره مخ شوی اوسم چې د ټي.بي ناروغي لري؟**

ډير زيات احتمال شتون لري چې د ټي.بي ناروغي لرونکي خلک هغه خلکو ته ميکروبونه انتقال کړي چې ورسره هره ورځ وخت تيروي، لکه د کورنی غړي يا همکاران. که چيرې تاسي د کوم داسي چا شاوخوا وئ چې د ټي.بي ناروغي لري، نو تاسې بايد د معايناتو لپاره ستاسي ډاکټر يا د روغتيا ځايي څانګي ته ورشئ.

**تاسي د تي.بي لپاره څنګه معاینه کیږئ؟**

د تي.بي عفونیت موندلو کې د مرستې لپاره کارول کیدونکي معاینات شتون لري: د پوټکي معاینه یا د تي.بي د وینې معاینه. د مانتوکس توبرکلین (Mantoux tuberculin) پوټکي معاینه د مټ ښکتني برخه کې په پوټکي کې د مایع (د توبرکلین په نوم یادیږي) لږ مقدار په تزریق کولو سره ترسره کیږي. هغه شخص چې د توبرکلین پوټکي معاینه یې ترسره کیږي باید د 48 څخه تر 72 ساعتونو موده کې بیرته راشي ترڅو د روغتیا پاملرنې روزل شوی کارکونکی په مټ کې غبرګون وګوري. د تي.بي د وینې معاینات سنجوي چې د ناروغ د معافیت سیستم هغه میکروبونو ته څنګه غبرګون کوي چې د تي.بي لامل کیږي.

**د تي.بي عفونیت مثبت معاینه څه معنی لري؟**

د تي.بي عفونیت لپاره د معاینې مثبت پایله یوازې دا ښیې چې دغه شخص د تي.بي میکروبونو باندې اخته شوی دی. دا د دې څرګندونه نه کوي چې آیا شخص کې تي.بي ناروغي راپیدا شوې ده که نه. نور معاینات، لکه د سینې ایکس رې او د بلغم بیلګه باید وکتل شي ترڅو معلوم شي چې آیا شخص تي.بي ناروغي لري که نه.

**باسیل کالمیټ – ګیرین (BCG) څه شی دی؟**

BCG د تي.بي ناروغۍ لپاره واکسین دی. BCG په ډیری هیوادونو کې کارول کیږي، مګر عموماً په متحده آیالاتو کې یې سپارښتنه نه کیږي. د BCG واکسین په بشپړ ډول د خلکو په تي.بي باندې اخته کیدو مخنیوی نه کوي. دا ممکن همدارنګه د غلط مثبت توبرکلین پوټکي معاینې لامل هم شي. په هرصورت، هغه اشخاص چې د BCG واکسین شوي دي د توبرکلین پوټکي معاینه یا د تي.بي د وینې معاینه یې ترسره کیدی شي.

**د تي.بي پټ عفونیت درملنه ولې کیږي؟**

که تاسې د تي.بي پټ عفونیت ولرئ مګر د تي.بي ناروغي ونلرئ، نو ستاسې ډاکټر به ممکن له تاسې څخه وغواړي چې درمل وخورئ ترڅو د تي.بي میکروبونه ووژل شي او ستاسې د تي.بي ناروغۍ باندې د اخته کیدو مخه ونیول شي. د پټ عفونیت درملنې په اړه پریکړه به په تاسې کې د تي.بي ناروغۍ د ودې چانسونو له مخې وي. ځینې خلک د نورو په پرتله په ډیر احتمال د تي.بي په ناروغۍ اخته کیږي کله چې هغوی د تي.بي عفونیت باندې اخته شي. پدې کې د ایچ.آی.وي عفونیت لرونکي خلک، هغه خلک چې پدې وروستیو کې په تي.بي ناروغۍ اخته کوم چا سره مخ شوي، او هغه خلک چې ځانګړي طبي حالت لري شامل دي.

**د تي.بي ناروغۍ درملنه څنګه کیږي؟**

د تي.بي ناروغۍ درملنه د 6 څخه تر 12 میاشتو پورې د بیلابیل درملو خوړلو سره کیږي. دا خورا مهم دي چې د تي.بي ناروغي لرونکي خلک درمل خلاص کړي، او د توصیه سره سم هماغسې درمل وخوري. که چیرې هغوی ډیر ژر درمل خوړل بند کړي، نو هغوی بیاځل هم ناروغیدی شي؛ که چیرې هغوی درمل په سم ډول ونه خوري، نو هغه میکروبونه چې لاهم ژوندي دي د دغه درملو پرورړاندې مقاومت پیدا کولی شي. هغه تي.بي چې د درملو پرورړاندې مقاومت لري درملنه یې سخته او قیمتي ده. په ځینې حالاتو کې، د ځایی روغتیا ځانګې کارمندان په منظم ډول د تي.بي ناروغانو سره ملاقات کوي او د هغوی د درملو
خوړل ګوري. دې ته مستقیم مشاهده کیدونکي درملنه (DOT) وایی. DOT د ناروغانو سره مرسته کوي چې لږترلږه وخت کې درملنه مکمل کړي.

**نور معلومات**

CDC. د تي.بي په اړه پوښتنې او ځوابونه